## په بریتانیا کې کار کول

که تاسي په فکري او جسماني توګه د کار جوګه یاست، د کار پیدا کول به له تاسو سره دایمي استوګنځي په پیدا کولو کې مهم رول ولوبوي. تاسي په بریتانیا کې د پیسو په بدل کې د کار فرصتونو ته د لاسرسي حق لرئ او په دغه برخه کې د تاسي کومک لپاره خدمات وجود لري.

تاسي کولای شئ چې د خپل محلي جاب سنټر پلس څخه مشوره واخلئ. جاب سنټر پلس تاسي سره د کاري فرصتونو یا ویکنسیانو، ترینګ او د ګټو یا بینیفیټز غوښتو په برخه کې معلومات درکولای شي. ددغه بستي محلي معلوماتو برخه کې په دی هکله معلومات شتون لري. ددی بنسټ کارکونکي له تاسو سره د وظیفوپه غوښتنلیکونوپه ډکولو کې مرسته کولای شي او تاسي د پناه غوښتونکو ښه راغلاست یا اسایلم وېلکم او مهاجرینو منابعو موسسو یا ریفیوجي ریسورسز له لارې هم وظیفه ترلاسه کولای شئ.

- **سوینډن جاب سنټر** – سپرینګ ګارډنز هاوس، شهزادګۍ کوڅه، سوینډن، SN1 2HY
0800 169 0190
- **ابینګډن جاب سنټر پلس** – 38-44 سټرټ کوڅه، ابینګډن، OX14 3QS
0190 169 0800
- **مهاجرینو منابع یا ریفیوجي ریسورس** – info@refugeeresource.org -
01865 403280
- **پناه غوښتونکو ښه راغلاست یا اسایلم وېلکم** – advice@asylum-welcome.org -
01865 722082

### د تحصیلي اسنادو تبدیلي

که چېرې تاسي د خپل وطن تحصیلي اسناد لرئ، NARIC هغه د تاسي لپاره ترجمه کولای شي او د بریتانیا معیارو سره یې پرتله کولو ورسته ددرجې تثبیت کولای شي. باید تاسي ددغه کار لپاره دوی ته فیس ورکړئ.

تیلیفون: 01242 258614
ویب سایټ: www.naric.org.uk

### دواطلبانه کارکول

دواطلبانه کارکول له نویو خلکو سره د لیدو، خپلي انګلیسي ژبې پخولو او د کاري مهارتونو جوړولو لپاره خورا ګټه ور ده. هغه تجربه چې تاسي په دواطلبانه کارو کې لاس ته راوړئ له تاسو سره د پیسو په بدل کې د کار موندلو کې هم ګټه کوي.

په بریتانیا کې دواطلبانه کار هغه وړیا کار ده په کوم کې چې تاسي خپل شخصي وخت په دوامداره توګه د کاروبارونو او موسسو د کومک لپاره وقف کوئ او دغه کار ته ډېر ارزښت ورکول کېږي. تاسي د خپلی علاقی او مهارتونو مطابق دواطلب کار کولای شئ او په داسي ورځو او وختونو کې کار کولای شئ چې تاسي لپاره مناسب وي.

که ستاسو د دواطلبانه کار او اوسني فرصتونو په هکله نور معلومات په کار وي، تاسو د اکسفورډ شیر ټولنیز او دواطلب حرکت سره د تیلفون له لارې پدی شمیره : 01865 251946 یا د ددی ایمیل آدرس له لارې vol@ocva.org.uk تماس نیولی شی او یا ددوی لاندی ویب پاڼه وګورئ www.ocva.org.uk

Vale of White Horse District Council

# 4. کار او زده کړې

## تعلیم او د انګلیسي زده کړه

د 5 تر 18 کلنو ماشومانو لپاره زدکړه **وړیا** او **جبري** ده. ټول والدین مکلف دي چې خپل ماشومان مکتب ته ولیږي. همداشان، دولت باید ډاډ ترلاسه کړي چې د ماشومانو لپاره په مکاتبو کې ځای پیدا کړي او په لوړ معیار تعلیم ورکړي. ستاسې ماشومان په مکتب کې شاید د وړیا ډوډۍ مستحق وي. د نورو معلوماتو او کومک لپاره د مکتب سره تماس ونیسئ.

د ابتدایه او متوسطه زده کړو تعلیمي کال د سپټمبر په میاشت کې پیل کیږي او د بل کال جولائ کې پای ته رسیږي.

د2023 – 2024 لپاره اکسفورډ شیر ولسوالۍ کونسل د ښوونځیو رخصتۍ په لاندی ویب پاڼه کې کتلای شي.
www.oxfordshire.gov.uk/residents/schools/term-dates-and-holidays

| | |
|---|---|
| اکتوبر نیمه دوره | 23 اکتوبر – 27 اکتوبر |
| کریسمس رخصتۍ | 21 ډیسامبر – 5 جنوري |
| پسرلي نیمه دوره | 12 فبروري – 16 فبروري |
| ایسټر یا پاک عید رخصتۍ | 29 مارچ – 12 اپریل |
| پسرلي آخر نیمه دوره | 27 مئ – 31 مئ |

د 2023 – 2024 ویلټ شیر ولسوالۍ کونسل مکاتبو رخصتۍ دلته پیدا کیږي
publicholidays.co.uk/school-holidays/england/Wiltshire

| | |
|---|---|
| اکتوبر نیمه دوره | 19 اکتوبر – 27 اکتوبر |
| کریسمس رخصتۍ | 21 ډیسامبر – 3 جنوري |
| پسرلي نیمه دوره | 12 فبروري – 16 فبروري |
| ایسټر یا پاک عید رخصتۍ | 29 مارچ – 12 اپریل |
| پسرلي آخر رخصتۍ | 27 مئ – 31 مئ |

### وړکتون او د مکتب آمادګۍ دوره ( 0 – 5 کلنو لپاره)

د ماشومانو لپاره وړکتون یا د مکتب آمادګۍ دوره کې شمولیت جبري نه ده. دولتي وړکتونونه عموماً وړیا وي ولې اوږد انتظار غواړي. بعضې 2، 3 او 4 کلن د وړیا لومړنیو زده کړو مستحق وي.

د شاملیدو او یا وړیا مستحق ګرځېدو لپاره مشوره د **کورنیو معلوماتو خدماتو** سره موجود وي.
**د اکسفوردشیر ایمیل آدرس:**
fisenquiries@oxfordshire.gov.uk یا تیلیفون 01865 323332
**د ویلت شیر ایمیل آدرس:**
familyservice@swindon.gov.uk
یا د تیلفون شمیره:
01793465111

### ابتدایي زده کړې

5 کلن (یا 4 کلن د زوکړې تاریخ پورې اړه لري) ماشومان ابتدایه ښوونځي ته ځي. ستاسې ماشوم تعلیمي وده د کال په جریان کې نظارت کیږي.

# 4. کار او زده کړې

## متوسطه زده کړې
د 11-16 کلنو لپاره زده کړو ته متوسطه زده کړې ویل کېږي. د رخصت کېدو د مخه، شاګردان عموماً جي سي اس اي (د متوسطه زده کړو عمومي شهادتنامې) امتحان یا ازموینه ورکوي.

تعلیمي کال په دوران کې مکتب کې د شاملېدو لپار تاسي باید د کال په منځ کې د انتقال فورمه د اکسفورډ شیر ولسوالی کونسل په ویب سایټ کې ډکه کړئ: www.oxfordshire.gov.uk

عرایض په 15 ورځو کې طی مراحل کېږي خو زیات وخت هم اخیستلای شي. که چېري تاسي د عریضې په هکله مخامخ کومک ته اړتیا لرئ، دغه کومک اکسفورډ ولسوالی په تالار کې بدون د وخت اخیستو ترلاسه کولای شئ.

تاسي خپل ځان ته تر ټولو نږدې ابتدایه او متوسطه مکتبونه دلته پیدا کولای شئ:
www.oxfordshire.gov.uk/residents/schools/list

که تاسي د مکتب عریضو په هکله پوښتني لرئ، په **مکتب کې د شاملولو ټیم** سره تماس ونیسئ:
admissions.schools@oxfordshire.gov.uk یا تیلیفون 0345 241 2487

## 16 کلنی څخه وروسته زده کړې
په انګلستان کې دا قانون ده چې شاګردان باید د 18 کلنی پورې په یو نه یو ډول زده کړو کی بوخت وي. له دې کبله، کله چې تاسو د متوسطه ښوونځي څخه په 16 کلنی کې فارغ شوئ، تاسي باید له لاندې کارو څخه یو وکړئ:

- پوره وخت زده کړې وکړئ لکه کالج یا شپږم فورم
- د محلي کاروبارونو یا اداراتو سره شاګردي وکړئ
- نیمه ورځ زده کړې یا شاګردي وکړئ او (20 ساعته یا زیاد په هفته کې) د پیسو په بدل کې کار یا دواطلب کار وکړئ

شپږم فارم مکتبونه تر 18 کلنی پورې د جي سي اس اي له مرحلی پورته زده کړې ورکوي. په شپږم فارم ښوونځیو او کالجونو کې یو تعداد کورسونه کیدای شی چې پکی شامل شئ لکه الف درجه او ملي حرفوي فراغت (ان وي کیو).

## د پوهنتون زده کړې
که تاسي د خپلو جبري زده کړو له پوره کولو وروسته د نورو زده کړو هوډ لرئ، تاسي پوهنتون ته تللای شئ. د پوهنتون درسونه تخصصي وي او په تحقیق ډېره توجه کوي. کله چې تاسي خپلې زده کړې پوره کړئ تاسي ته به علمي سند یا ډګري درکړل شي.

په ټوله بریتانیا کې مختلف قسمه فاکولتې یا تخصصي رشتې په پوهنتونونو کې تدریس کېږي. هره رشته د شمولیت لپاره د انګلیسي ژبې او علمي درجو یا نمرو لپاره خپل ځانګړې شرایط لري. رشتې په عامه توګه 3 کاله لوستل کېږي ولې بعضې رشتې کیدای شي زیات وخت ونیسي او ځینی لږ وخت ونیسی. تاسي د تحصیلي رشتو په هکله د معلومات او یا په پوهنتونونو کې د داخلې په هکله معلومات د پوهنتونونو او کالجونو شمولیت خدماتو (یو سي اې اس) څخه تر لاسه کولای شئ: www.ucas.com

په پوهنتون کې د زدکړو لپاره تاسي باید فیس ادا کړئ، دا چې تاسي ته په بریتانیا کې د ژوند کولو دایمی اجازه درکړل شوې ده تاسي کولای شي چې د زده کوونکو مالي تمویل لپاره غوښتنه وکړئ. ددې سره به تاسي د زده کړو لپاره قرضه درکړل شی او د پوهنتون څخه تر فراغت وروسته کله چې په کار کولو بوخت شئ هغه وخت به دا پور بېرته ادا کړئ. که تاسي د محصلینو مالي تمویل په هکله نور معلومات غواړئ، مهرباني وکړی دلته وګورئ:
www.gov.uk/browse/education/student-finance

## په بریتانیا کې د مهاجرینو زده کړې (آر اي یو کې)
REUK د ځوانو مهاجرینو او پناه غوښتونکو سره په انګلستان کی تعلیم ته په لاسرسی کی مرسته کوي. نور معلومات ددوی په ویب سایټ کې وګورئ: www.reuk.org

Vale of White Horse District Council

# 4. کار او زده کړې

## د انګلیسي ژبې زده کړه

### انګلیسي د نورو ژبو ویونکو لپاره (اي اس او ال)

ESOL درسونه د ستاسي انګلیسي ژبې پخولو لپاره خورا مهم دي. د ESOL اکثره درسونه په پیسو دي ولې که تاسې ځیني خاصې ګټې یا بینیفتز ترلاسه کوئ او یا بې کاره یاست کولای شئ دا زده کړې په وړیا توګه وکړئ.

په اکسفورډ شیر کې له څو ځایو په وړیا توګه د انګلیسي ژبې زده کړې کولای شئ. ستاسو د ټولنیزو چارو حمایوي آمر په دغه برخه کې تاسې سره کومک کولای شي.

### ابینګډن او ویټني کالج

01235 555 585
enquiries@abingdon-witney.ac.uk
www.abingdon-witney.ac.uk

### پناه غوښتونکو ته ښه راغلاست

د پناه غوښتونکو او مهاجرینو لپاره فردي او یا یو په یو کومک ورکوي، په خاصه توګه د هغه چا لپاره چې د کوم دلیل له وجې په کالج کې درسونو ته تګ نه شي کولای. د ESOL ابتدایي او لوړې درجې تدریس کېږي او د پرمختګ کولو فرصتونه هم لري.
تماس: office@asylum-welcome.org

### اکسفورډ شیر ولسوالۍ کونسل

www.oxfordshire.gov.uk/residents/children-education-and-families/education-and-learning/adult-learning/english-courses-adults

### اکسفورډ بزنس کالج

0333 242 0000
enquiries@oxfordbusinesscollege.ac.uk
www.oxfordbusinesscollege.ac.uk

### اکسفورډ بین المللي ډیجیټل انستیټوت

020 8293 1188
admissions@oidigitalinstitute.com
www.oxfordinternationaleducationgroup.com/oi-digital-institute

### اوپن پوهنتون

www.open.edu/openlearn
تاسې کولای شئ چې ددوئ ویب سایټ په اصلي پاڼه د لټون په ځای کې 'وړیا انګلیسي کورسونه' ولیکی او کورسونه پیدا کړئ.

**ESOL –** غیر رسمي درسونه

- هره سه شنبه د سهار له 10 بجو تر غرمې 12 بجو، دي چارټر، ابنګډن، OX14 3LY،
- 01235 520374

ټول معلومات د 2023 کال تر جون پورې سم دي.